
باتور ملت
(د سلیمان لایق قصیده چې د کوزې پښتونخوا شاعر، غني خان ته یې لیکلې)
Ketabton.com
ایډیټ او بریښنایي کول: احسان علي شفیق او زرغونه علي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قصیده

دا زمونږ د سترګو وړاندې «غني» ګوره څه تیرېږي؟
یو باتور ملت غر قیږي، یو مضبوط وطن نړېږي
یـــوه دنیا د بـرم بـذل، یـــوه دنـــیا د مـــیړنـــیـــو
دغـروب پـه لـوري درومي، د تاریخ له پاڼو لوېږي
پاس دستورو رانه څاڅکي، راته ښکاري اوښکې اوښکې
د آسـمان پـه شــنو غومـبرو، لارې لارې را بـهیږي
سر چې ږدمه پـه سـر وېږدي، هـیبتناک غـړونـه اورم
ته وا څـمکه پـه منځ دوه شـوه، افغاني وطن ډوبیږي
یا آسمان زمونږ پـه ویـر کې، ښکته پرېـوتـه پـه ځمکه
یا قیامت پـه ځمکه جوړ شو، ولاړ غرونه هـواریږي
« ایمل » رېږدي پـه لحد کې، له غـصې دزړه پـه تـبه
چې مغل پـه خـیبـر وخـوت، افریدی لا نـه پـوهـیږي
د شـنلې پـر ځای له دښـتو، تېرې تـورې زرغـونـېږي
د اوبـو پـر ځای لـه غـرونو نه سـرې ویـنې را بـهیږي
د باران پـر ځای له ورېځـو، تـندرونه را کـوزیـږي
د رحمـت پـر ځـای لـه هسـکه، غـضبونـه نـازلیـږي
" شمر" ښکته پورته دانګي، سترګې رډې توره کښلې
نـه یې سترګې لـه چا سوځي، نه یې شرم له چا کیږي
«زینب» چیغې کړې چې ربه، ته لا څه ته ورته ګورې

د «حسین» پـه زخمي زړه کې، د یزید خنجر ځلیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه بې پته شوو جنګونه، څه بې هوده شوو ننګونه
تـو لعنت په دې شـملو شه، لا دي جـګې نه شـرمېږي
دا د چرګ لکۍ ته ورته، شملې واچوئ په مځکه
دا د شــرم او مــاتې نـښې، پـښـتـنو تــه نــه ښـايـېږي
شـمله هـغـلته شمـله وي، چـې پـه نـر بانــدې وي لکـه
اوس په هر کدو جګیږي، اوس په هر اجړا ښوریږي
خدایه دا دې څه را وکړه، چې یو نر دې راپرېښود
هـر کـمره تـه چـې تکـیه شـوو، لکه شـګه را شـړیـږي
یو«میرویس» په مونږ کې نشته، چې ګرګین لارې ته سم کړي
یو «شیرشاه» راپورتـه نـه شو، چې مغل ته ودرېږي

پروني ملا ته ګوره، چې ټوک خور وو سقاط خور وو
اوس چې خصم دافغان شو، پـه سـرو زرو کې ډوبیږي
لـويـه خيـټه غـټه کـونه، نـرۍ پـښې بـبـره ږيــره
ويته خوله بې شرمه سترګې، لکه مچ هرڅه کې لوېږي
مټکـور ماغزه د تيږې، بې فرهـنګه بې ادبـه
چې تبليغ کوي نـڅـيـږي، چې قران لـولي شـشـنـيږي
په اسلام کې لارې باسي، زموږ دخاورې بر بادۍ ته

دين اخوان ته يو دکان دی، چې هر څه په کې خرڅيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دې څه بلا اخته کړه، زمونږ په دې بد مرغو خلکو
نـه له تـا څخـه ډارېږي، نـه له دوی څخه شـرمېږي
اوس چـه حکم د ملا شـو، دکابل پـه پـاچاهي کـې
هر ساعت په چا ور دانگي، هره ورځ په چا ورلوېږي
د افـغان په قتل اخلي، سـره پـونډونـه شـنې ډالرې
پـښتو پرېږده چـې تـرې تللې، له ایمان سـره خـرڅـېږي
باندې سپین په منځ کې تور دی، نگه اور دی نگه اور دی
په هر تار کې یې د ږیرې، شیطان سپور دی او نڅېږي
هر چړی په چړ چوبي کې، پاچاهي خوبونه وینې
انگریزی لـنچر په غـاړه ، پـه لار ځي ته وای نـڅېږي
چې پرون یې دمولې، رنې خاورې خوسکو ته
اوس پـه بـره پښتونخوا کې، پـه انـسان بـاندې سپـرېږي
زما زړه پـولی پـولی دی، زما سا لـمبه لـمبه ده
چې دا تـوره خپـکی بـه؛ له مـونـږ کله پـور تـه کـېږي
جهاد لوښی د فساد شو، مولانا صاحب جلاد شو
دیـن دولـت دواړه بـربـاد شـو، د ده زړه لانـه سـړېـږي
زمونږ کور دشرارت شو، افغاني وطن غارت شو
دا زمونږ د سترگو وړاندې، «غني » گوره څه تیرېږي
مونږ زغمل چې رانه لوټ شي، څه چې شته دي بې ناموسه
تورې خاورې مو په خوله شه، اوس هغه رانه لوټېږي
د یـوې میاشـتې تـازه ناوې، دشـهید پـر قبر ژاړي
وایي کـوم جهاد ته مړشوې، ځواب ووایه چې ځنډېږي
تا چې سر په چا دو کړی، هغه غواړې چې ما لوټ کړې
ماور بـولې هـغه ځای تـه، چې شـیطان ځنې شرمېږي
زه چې ستا له غمه ژاړم، هغه ځاري زما سترگې
سـر را پـورتـه کـه شـهیده، ارمـانـونـه دې رژیـږي
افغاني درنې بیبیانې، چې په پټ عزت خوندي وې
د جهاد تـر بـیرغ لانـدې، بـربـنډیـږي لـیـلا مـیـږي
هر عرب خریدار شوی، زمونږ د خوندو او خور لڼو
مولانا صاحب یې پلوري، نه شرمېږي نه ځوریـږي
تر ځارویو وړیا شوې، پښتنې په منډوي کې
دځارویو هم څه دود وي، چې په چا باندې خرڅېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربه دا لا څه تالان دی، چې په خپل وطن يې وينم
چې خپل سپي په پردی ننګه، افغانانو ته غپيږي
چې له زړه د «کنشکا» نه، شنې لوخړې ځي آسمان ته
چې جمرود دسرو په بلخ ې، د«یما» له سره لوېږي
"ګرګين" ويوست تېغ د ستې، د افغان ننګي کهول ته
د « ميرويس» ليڅه بېواکه، تېرې تورې ته غځيږي
په لاس نه ورځي بې خاورو، نه يې تېغ نه يې لښکر شته
هم لښکر هم يې تېغونه، د وطن پر ضد جنګيږي
خدايه ځرنګه بدل شوو، د افغان درانه خويونه
په هر چا چې مونږ تکيه شو، پر پرديو پلورل کيږي
د وطن په حق کې نه کا، تش د خير يوه خبره
خو د خپل مطلب د پاره، د هر سپيي پښو ته لويږي
په هر ځای چې باران راشي، زمونږ خره يوسي له مخې
په هر خوړ چې سيلاب وځي، زمونږ وره ته را سميږي
په هره سيمه چې برېښنا شي، تندر پرېوځي زمونږ په کلي
په هر رود چې توفان راشي، زمونږ کور ته راسيخيږي
په ډالرو باړه شوي، که غلجی که دورانی دی
پښتانه او پښتو دواړه، هسې ښکاري چې ختميږي
د احمد په ګور يې تو کړې، تورې ناړې د يېګيو
دا چې پلار له ګريوان نيسي، دا چې ورونو ته ګواښيږي
مونږ ته ټول جهان دوزخ دی، چې وطن مو په کې نه وي
مونږ ته هر وطن سقر دی، چې افغان په کې ځوريږي
مونږ ته هر "شابه" پيغور دی، چې دشمن يې راته وايي
مونږ ته هر سلام لعنت دی، چې په سپکه په مونږ لويږي
مونږ ته هر ګوله مرګی دی، چې دبل په ست يې ژوو
مونږ ته هر ګوټ هلايل دی، چې د بل جام نه تويږي
مونږ ته هر مشر دشمن دی، چې په مونږ يې رحم نشي
مونږ ته هر افغان پردی دی، چې پردي سره يو کيږي
مونږ ته هر ملک تلک دی،چې زمونږ په سر روپۍ خوري
مونږ ته هر ملا بلا دی، چې په خلکو نه رحميږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جگې جگې ساقي راشه، پس له عمره را پخلاشه
په چوپتیا کې مو غوغا شه، چه مجلس را نه سړیږي
د ځوانی نوبت مې تېر شو، کوم چې تېر شو هغه هېر شو
اوس را ونیسه دا پاتې، چې قطار رانه تیریږي
که مطرب او رباب نه وي، که مستي او شباب نه وي
که د مینې عذاب نه وي، عمر بد کړې چی اوږدیږي
هوښیاري یوه تنهایي ده، تنهایي یوه تباهي ده
په ترخو اوبو مې ډوب کړه، گنې زما جاله ډوبیږي
په مستی کې را چارپېر کړه، یوه کېږدی دخورو ځنو
چې شپې ورځې را نه تښتي، چې کاروان را نه بېلیږي
د پسرلي په شکلې یاد ، جام ته تویې کړه سکروټې
چې گلونه را ته ژاړي، چی خزان راته گواښیږي
دځوانی په باغ مې راغله، دزړښت دماښام لړه
پیالې ډکې کړه له مخې، عمر تښتي نه ودریږي
ساقي ستړی یم له ژونده، لږ مې خلاص کړه له دې بنده
گنې وژنې مې دا تنده، چې گړی گړی زیاتتیږي
هومره راکړه چې پې ورک کړم، سر له پښو، پښې له سره
چې «غني»(۱) را څخه تښتي،« بېنوا»(۲) رانه پټیږي
چې خورې صحرا ته ووځم، لېونی د لېونیو
چې مستي را کې نڅیږي، چې جنون راته خندیږي
چې مرغان د خړو دښتو، راته ووهي وزرې
چې زرکان راته غریږي، چې هوسی را ته پنډیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه، نه خوشې ټوکه نه ده،« غني» لږ ورته دمه شه
دا خوب وړي را ويښيږي، دا پرهوتي را پاڅيږي
گومان مکړه چې خالي شوه، د ساقي مينا له ميو
لا د تاک په تاخانو کې، د انگور ښيښې ډکيږي
لا رباب سور شوی ندی، لا تش دوه دوره اوښتي
لا ساقي نوی راغلی، لا رندان نوی گرميږي
لا دځمکې تل کې اېشي، تللې وينې دځلميانو
لا د دې تودو خاورو، سره گلونه را غوړيږي
لازمونږ په ارادو کې، عشق د منډو غلی نه دی
شپه که هر څه توفاني ده، چراغونه لا بليږي
لا وطن خلک را بولي، د ميړانو معرکو ته
لا هغه ژبې ژوندي دي، چې تر هوډه قربانيږي
لا خوريږي نيمو شپو کې، دتوفان غاورې چيغې
لا د غرو له جمدرونو، سيلاوونه راکوزيږي
لا د وينو واټ پرانيستی، ليونتوب دی ليونو ته
لا په پښو کې دمستانو، ځنځيرونه سره شليږي
لا د مځکې تناوونه، لاره باسي زلزلوته
لا په باد او برښنا کې، گردشونه را رسيږي
لا د رزم گرمي شته ده، زمونږ په مټو کې د ننه
لا زمونږ په پښتون زړه کې، د«ايمل» وينه چليږي
لا په جنگ د تخت او بخت کې، زمونږ لوبه ختمه نده
لا همت د« شير شاهي» ته همايون له آسه لوېږي
لا د لوړو وريځو شا ته، عقابان وهي وزرې
لا په هسکو سر درو کې، افغاني زمري غوريږي
لا دخپلې خاورې مينه، مونږ ته وايي چې را پاڅئ
لا خوب وړي دپېړيو، له خوبونو را وښيږي
لا زمونږ په کلا گانو، پښتني حيا خوره ده
لا زمونږ په دروازو کې، غيرتونه پا لل کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا به بیا یوه غوغا شي، لکه څاڅکی په څپو کې
یو سرکښه یاغي سیند شي، سمندر ته به رسیږي
دا به بیا سپېدې خورې کي، د اطلسو پالنگونه
د بلورو په بـیدیا بـه، رود د ویـنو را خـوټیږي
دا به بیا په لمر لویدو کې، د مرغانو سیل له ورایه
لکه سور بیرغ د فتحې، په سرو وړانگو کې رپیږي
دا به بیا زمزم ته رسي، د بیدیاوو جل وهلي
دا به بیا په جل وهلو، د رحمت باران وریږي
دا به بیا په مخه دانگي، دا زمونږ جنگي آسونه
دا به الـوزي له کنـدو، دا بـه لوړو ته رسیږي
دا به اچوي له سویو، سرې سکروټې په تکل کې
دا بـه رسي تـر هـدفـه، دا بـه خامخـا بـربېږي
دا به بیا اباسین ابشي، ډوبوي به تورې کونې
تـور پنجاب بـه وهل کیږي، له بنسټه به نړیږي
دا به بیا لنډۍ مستیږي، تن به باسي له بستره
پـښتانه به را پاڅیږي، پښـتونخـوا به آزادیږي
دا به بیا د« احمد» چیغې، ریږدوي د لاهور مراندې
دا به بیا په کړاکړ کې د« بیربل» ژامې ماتیږي
دا به بیا« سیدال» راباسي، د مرگ توره په غوجرو
آخوندان به ترینه تښتي، امامان به ترې پټیږي
دا د قم چړیان به پوه شي، چې افغان د کار په ننگ کې
خپل پور نه پریږدی پردي ته، دا تقدیر دی نه بدلیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای

Contacts: m.facebook.com/zarghoon.ali

m.facebook.com/m.ihsan.ali.shafiq

Mobile number: 0770859047

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**